Humanitarian
Outcomes

United Kingdom
Humanitarian
Innovation Hub

# په افغانستان کې د بشري فعالیتونو د اصولي ستونزو څيړنه

جون ۲۰۲۳

د رپوټ لنډيز

ترټولو ستونزمن اصولي ننګوني دا دي چې د دوو عيني منفي پايلو تر مينځ مجبور شو يوه غوره کړو. په افغانستان کې نړيوال مرستندويه سکټور له يوې سختې پرېکړې سره مخ دی، چې ايا د طالبانو د فرمانونو په نه منلو سره د بشري حقونو نړيوال ارزښتونه په پام کې وساتي او يا د مرستو د دوام لپاره د بشري اړتياوو ته غاړه کېښودل شي او د مليونونو خلکو د اړتياوو لپاره مرستو ته لومړيتوب ورکړي.

دا پرېکړه د دې حقيقت له امله پېچلې ده چې خلکو ته د اغيزمن مرستو وړاندې کولو پلان ښځينه کارمندانو ته اړتيا لري ترڅو په اغيزمنه توګه ښځو او نجونو ته رسيدګي وکړي. په دې شرايطو کې، که څه هم په ټيټ معيار مرستندويه ډلو د افغانستان په ټولو ولايتونو کې د واک د جوړښت دغير متمرکز ماهيت په استفادې سره، د عوامو د سترګو څخه پټ د سيمه ييزو خبرو اترو او ستراتيژيو يو څه محلي د حل لارې موندلي دي. پداسې حال کې چې دوی په پيل کې فکر کاوه چې دوی به له دې بنديز څخه مستثنی وي، مګر د ملګرو ملتونو بشردوستانه اداري اوس د نادولتي موسسو په څېر ورته کړکيچ سره مخ دي. پداسې حال کې چې د خپل منځی اداري دايمي کميټې (IASC) په مشرۍ يوه پروسه د ابتدايي ازمايښت دورې د پلان جوړولو لپاره يو چوکاټ او معيار رامينځته کړي، د دغه مرستندويه اداري کارکونکو سره يې چې مرکې شوي په پراخه کچه احساس کوي چې دوی د سياسي رهبري او نړيوال ډيپلوماتيک لارښوونې څخه بې برخه پاتې شوي دي او دوی په انفرادي ډول دغه ستونزې سره لاس او ګرېوان دي.

يوه ګړندۍ څېړنه - چې په افغانستان کې د بشري مرستو وړاندې کونکو او ترلاسه کونکو سره نږدې ۲۵۰ مرکې، د افغان ميرمنو دنظرياتو سروې، او د بشري اخلاقي ادبياتو بياکتنه په کې شاملې دی – غواړي په افغانستان کې د بشردوستانه فعاليتونو په وړاندې دشته اصولي ستونزو په اړه په وخت تحليل او شننه وړاندې کړی. په دې څېړنه کې، لاندې موارد ترلاسه شوي:

**بشري بنسټونه اکثرا داسې چوکاټونه نلري چې په انفرادي يا ډله ايزه توګه پرېکړې وکړی.** ډيری يې حتی د سيالي اصولي ارزښتونو او قواعدو له مخې د ستونزې په تعريفولو کې ستونزه لري. دا بنسټونه توانيدلی ندی چې د امنيتي خطر د مديريت لارښوونو په شان د خپل پلان په جوړولو کې د اصولي پرېکړو د نيولو لپاره ماډلونه يا عملي لارښووني رامينځته کړي. پرځای يې، د دغو فرمانونو له صادريدو راهيسې، دوی د بې پرې يا غيرفعال پرېکړې او ځينې وختونه (سمي) - داخلي بحثونو سره لاس او ګرېوان دي. د اصولي لارښووني پرته، بشردوستانه ټولنه نشي کولی د ستراتيژيک چلند او ګډ پيغام رسولو لپاره سره يوځای شي.

**د تمويل کوونکي اداري بی ارادګی برعکس پايلي درلودې.** په داسې حال کې چې تمويل کوونکو ادارو د ښځينه مرستندويه کارکونکو په اړه د طالبانو بنديز ننګولی او هڅه يې کړې چې همکارو ادارو سره همغږيز لارښووني چمتو کړي، ډيری مرکه کونکو احساس کوي چې د تمويل کونکي ادارو دولتونه کولی شي په دې اړه ډيره فعاله رول ولوبوي. په دې برخه کې د مرستو ترلاسه کوونکو ادارو ته د نوښتونو سپارل، د ډيپلوماتيکو اجماع يا ستراتيژۍ نشتوالی ښيي چې طالبانو باندی تاثير ولری. تمويل کوونکی سازمانونه د خپلو اړوندو حکومتونو له خوا د روښانه سمت يا قوي سياسي لارښوونو په نشتوالي کې، ځانونه په ورته اصولي بحران کې ويني - او د دوی دليل دا دی چې دوی بايد د مليونونو خورا زيان منونکي افغانانو سره دوامدارو مرستو ماليه ورکونکو ته چې د طالبانو له کړنو څخه ويره لري، توجيه کړی.

**د افغان ښځو نظرونه، که څه هم يو شان نه دي، د نړيوالو مرستندويه ادارو په پاتې کيدو ټينګار کوي.** په ټول هيواد کې د ۱۰۵ميرمنو نه انتخاب شوي تليفوني نظرپوښتنه له لارې (که څه هم د احصايي ښودلو لپاره خورا کوچنی ده) ومونډل شوچې لوی اکثريت د دې فرمان سره مخالفت کوي. که څه هم، يوازې يو څه نيمايي څخه زياتو يې غوره کړه چې نړيوالي مرستندويه اداري بايد پاتې شي او په هر ځای چې ممکن وي مرسته وکړي، په داسې حال کې چې ۳۸٪ په دې باور دي چې دوی بايد د اصولو سره سم پرېږدي او ۱۱٪ دا جرئت و نه کړ چې په دې اړه نظر ورکړي. د افغانی بشري ادارو د ښځينه کارکونکو سره د دې څېړنې په اړه مشوره تر سره شول، او په کيسه ايز راپوروونو کې، په کلکه ترجيح ورکړه چې مرستندويه اداري په افغانستان کې پاتې شي.

**د بشري بنسټونو د وتلو ګواښ د طالبانو پر درېځ اغېزه نده کړې.** اوسني مشران، په داسي حال کې چې پخپل وېناوې متفق نه دي (او ډېری يې په شخصي توګه ډېر معقول درېځونه څرګندوي)، د خپلو افراطي پالیسیو د پرېښېدو په لورهیڅ معنی لرونکی حرکت ندی ښودلی. برعکس، د دوی کړنلاره سخت شوې او دوی په تدریجي ډول په ټولنه کې د ونډې په برخه کې له ښځو او نجونو څخه ډېر حقونه اخیستي دي. په دې ځېرنه کې د کورني او نړیوالو بشري سازمانونو سره مرکی نږدې په همغږيز توګه د نړیوالو خبرو اترو دوام او د اصولو پر بنسټ قوي ملاتړ تصویب کړ، خو په ورته وخت کې د دغو خبرو اترو په بې ګټې پاتې کیدو یې خواشیني څرګنده کړه. که چیرې په دې برخه کې د ګټې اخیستنې مناسب ټکی وي، نو داسي ښکاري چې بشري سازمانونه به و نه کولی شي دا ترلاسه کړي. ډېری وختونه، د لوړ پوړو ملاتړ برعکس پایلی درلودلی، پداسي حال کې چې هغه کسان چې کار ته دوام ورکوي په خاموشۍ او د محلي خبرو اترو په کچه خبرې اترې ترسره کړي. طالبان ممکن د عامه مشروعیت او داخلي شخړو له بحران سره مخ شي، مګر د بشري سازمانونو عمل احتمال نلري چې پدې اړه پریکړه کونکی عامل وي. او په داسي حال کې چې دوی د نړیوال مشروعیت او د اقتصادي شریکانو د ترلاسه کولو په لټه کې دي، د طالبانو مشرانو ښودلې چې دوی د بشري مرستو وړاندې کول د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره په بهر یا په دننه کې د ګټورې وسیلې په توګه نه ګوري. برسېره پر دې، د بشري مرستو بندول طالبانو ته د هغه فضا د ورکولو په معنی دی چې ممکن بیا رغول یې ستونزمن وي.

بشري اصول هیڅکله مطلق نه دي، او نه هم د بشري حقونو له اصولو سره په بشپړه توګه سمون لري. جوړجاړی په هرډول پیچلي بشردوستانه فعالیتونو کې په یوو یا بل ډول شتون لري. د پخوانیو اصولي ستونزو څخه زده شوي ادبیات او درسونه (اصولي پراګماتزم) ته اشاره کوي چې ډېری وختونه د ډیفالټ له مخې بشردوستانه چلندونه مشخصوي، نه د ډیزاین له مخې. دا ډېری وختونه د دادخواهۍ، پراختیا یا سولې په اړه د اوږد مهاله پایلو په اړه د مهمو اړتیاوو ته د برابرولو لپاره د فعالیتونو سمدستي پایلو سره مرسته کوي.

له همدې امله، د دې وضعیت روښانه ارزونه، او د بشري فعالینو محدود اغیزه باید دې پایلې ته ورسیږي چې د بشري بنسټونو سمدستي  وتل به کړاوونه او د ژوند احتمالي زیانونه زیات کړي، پداسي حال کې چې د ښځو په ګټه د پالیسی بدلون به ترلاسه نشي.  هغه څه چې موږ د افغان میرمنو د نظرونو څخه پوهیږو ورته پایلې ته اشاره کوي: بشري مرستې باید دوام ومومي.

د مرستندویه ادارو لپاره د هغو ستونزو سره د معاملو په برخه کې چې دوی ورسره مخ دي هیڅ مناسب ځوابونه شتون نلري - یوازې (لږ بد) آپشنونه موجود دي. بشري ادارې چې په افغانستان کې فعالیت کوي کولی شي اصولي چوکاټونه وکاروي ترڅو د ښځینه مرستندویه کارکونکو د بندیز په اړه د غبرګون جوړښت نور هم وځیږي-او هڅه وکړي چې د هر ډول اوږدمهاله زیانونه چې د وضعیت د منلو له امله رامینځته کیږي - د لاندې کړنو د ترسره کولو له لارې، کم کړي.

- مرستندویه ادارې باید په هغو پروګرامونو تمرکز وکړي چې قوي اړتیاوې په ګوته کوي او مهم ټولنیز خدمتونه وساتي- یعني حتی د ناوړه کاري شرایطو سره سره، مرستې دومره مهم دي چې دوام یې تضمین شي.

- په ورته وخت کې د بندیزونو ننګولو اراده د پرواګرامي هدف په توګه - مرستندویه ادارې باید کړنې طرحه کړي او تمویل کوونکی ادارې باید هغه تشویقي موارد او فعالیتونه وړاندې کړي چې د ښځې سره د تعلیمي او کاري فرصتونو په برابرولو کې مرسته وکړي. دا ممکن تمویل کوونکی ته اړتیا ولري چې په معلوماتو کې انعطاف منونکي وي او د پام وړ دقت ارزوني غوښتنه وکړي ترڅو دا طریقې په خورا حساسو شرایطو کې زیانمن نشي.

- د ښځو سره د ښه چلند کولو څرنګوالي په اړه د پاملرنې، د پروګرام جوړونې په ټولو اړخونو کې د ښځې د ګډون څرنګوالي، د ښځینه کارمندانو ملاتړ؛ او د ښځو د سازمانونو څخه ښه ملاتړ باندې باید تمرکز وشي.

- د ډیپلوماتیکو ټولنې څخه غوښتنه وشي چې په افغانستان کې د ښځو کړکیچ باید د بشري حقونو او ډیپلوماتیک بیرني حالت په توګه وڅیړل شي - دا د تمویل کونکو حکومتونو څخه د لوی سیاسي ارادې، ګډون او فعال رول لپاره قوي قضیه جوړوي.

- په افغانستان کې د بشري فعالیتونو په وړاندې نورو ستونزو او ننګونو ته ډېره پاملرنه او د فساد، انحراف او د حکومت بدلولو خطرونو سره د مبارزې لپاره ډېرې هڅې وشي.

که څه هم دا ډېرى وختونه دردناک وي، د بشري سازمانونو لپاره اړینه ده چې د بحراني وضعیت په اړه د خپل اغیزو ارزولو کې متواضع وي چې دوی پکې شتون لري او د خلکو د ژوند او کړاوونو او د هغې لنډمهاله پایلو ته د رسیدګۍ لپاره ترټولو غوره کار کولو پخاطر راضي وي. او په ورته وخت کې ډېر پام وکړئ چې د ټولنیز عدالت، مساوي حقونو او بشري هوساینې اوږدمهاله اهداف کمزوري و نکړي.